مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۹/۱۷

ځورونکي ورځې

شاعر او لیکوال ته هغه ورځې ډیرې ځورونکې وي، چې کله الفاظ ترې تېښته شروع کړي. چیرته مې د غضنفر صیب په حواله لوستي و چې: له یو ښه لیکواال نه هیڅکله کلیمې نه ورکیږي او د تورو چینه یې وچېدونکې نه وي، هغه هره ورځ له مخامخ کېدونکو پېښو اغېز اخلي، په روانو کېسو، ورځنیو تراژدیو او خنداو، ښو او بدو حالاتو او نورو سوژو د کاغذ پاڼې توروي؛ (خلک که هغه لغت پراني بولي او که یوه خوندوره معما) خو ښه لیکوال هر وخت ښه لیکنه کولی شي،ي مګر ښایي غضنفر صیب له داسې پېښې سره نه وي مخ شوی، چې قلم او کاغذ یې په مخ کې وي؛ مګر دی ورته داسې حیران حیران ګوري؛ ته وا چې هیڅ ور ته یاد نه دي او طبیعي ګونګ او کوڼ پیدا شوی. دا چې د انسانانو خلقت سره ورته نه دی، څنګه چې مخ، سترګې، شونډې، پېنې، لاسونه، سر وېښته، قد، رنګ او نور غړي سره توپیر لري، ښکلا پنځونکي ذات انسانانو ته احساس، زړه او په دماغو کې پروت فکر هم له یو بله ډیر بدل وربښلی. زه خو داسې یم چې کله مې زړه او ذهن بریالي کیږي، په یو څه لیکلو مې ګوتې سترې او د ماتېدلو تر اندېښنې ورسوي؛ مګر کله ناکله بیا داسې هم شوي، چې د سترګو وړاندې مې موضوع لکه د جاري لوبې (لایف ګیم) په څیر روان وي مګر زه قلم ته لاس لا نشم ور وړلی. یوه ورځ په کابل کې ځانمرګی برید وشو؛ لسګونه څه چې سلګونو تنو ته عامو ملکیانو ته په کې مرګ ژوبله واوښته، ما په ټولنیزو رسنیو کې د نورو په څیر هیڅ و نه لیکل؛ حتی په وینو سور پروفایل مې هم جوړ نشو کړای، نه مې هغه برید ته له غندنې کومه جمله پیدا کړه، ښایي هلته له کوم ستر فکري اضطراب سره مخ شوی وم؛ داسې لکه په مینه کې له ناکامۍ او ماتې لیدلو وروسته لیونی شوی ناروغ باندې چې کله څپه راشي پخواني یادونه یې پر ذهن وګرځي او د فکري ګډوډۍ له امله په ځان خولې لګول پیل کړي.

خبره اوږدول مې نه خوښیږي؛ ځکه زړه تنګی انسان یم؛ خو بیا هم خبره را نه اوږدیږي عادت مې جوړ شوی. سم دم لکه خپل نیکه مې! هغه به د سهار له چایو تر ۱۰ بجو کار وکړ او بیا به تر ۱۲ بجو ویده شو؛ نو که له ۱۲ بجو به یوه دقیقه هم غرمنۍ وځنډېده هغه به غوسه کېده.

ما وپوښتل: ولې اکا؟

کړه یې: وکه مې شي، چې ۱۲ بجې شي؛ نو که وږی هم نه یم غیر ارادي کېږم او په غیر اختیاري توګه د ډوډۍ را وړلو غوښتنه کوم.

چې موضوع را نه بل طرف ته لاړه نشي را به شو د الفاظو ورکې ته؛ زه به د ښاغلي غضنفر صیب خبره ځکه هم رد نشم کړای، چې ما په ډیره کمه موده کې یو ناول بشپړ کړ، ښایي له ۲۵۰ مخونو زیات یاد ناول یوه میاشت وخت نه وي نیولی؛ خو بیا مې یو بل ناول د څلورو کلونو په تیرولو سره هم پوره نه کړ، حال دا چې له هغې وروسته مې د دریم ناول په لیکلو هم شروع وکړه. روح مې یو څه لیکلو ته رضا و او ذهني چاپیریال مې د زړه دغې هوساکې غوښتنې ته لبیک ویلی و؛ نو ناول هم دا دی د بشپړېدو تر درشله ورسېده. (اوس رب پوه) چې زه به یې له وروستۍ جملې بعد د «پای» کلیمه ولیکلی شم او که نه؟ دا شونې ده، چې سل غزلونه په سلو ورځو کې ولیکل شي که چیرې د شاعرانو په اصطلاح الهام درسره مل وي او زه وایم که د شاعر ریاضیت هم له زیات نه بیخي زیات ته رسېدلی وي. له دې وروسته سل داسې ورځې هم شونې دي، چې مونږ پکې هیڅ غزل بشپړ نشو کړای، ما ډیر کله لنډه کېسه په نیمایي کې پرېښې او بله ورځ، راتلونکې اونۍ او ان یوه میاشت وروسته مې بشپړ کړې؛ خو داسې ډیر شعرونه لرم چې یو، دوه، درې او ان درې نیم بیتونه مې لیکلي او بیا تر څو میاشتو او حتی کال، دوه کاله پورې د غزل په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوره کولو نه یم برلاسی شوی؛ زه د شعر په اړه هغه کذب او غلو هم نه منم چې یو شاعر نعوذباله ووایي: الهام لکه وحي داسي ده، چې کله وشي؛ نو په کناراب او تشناب کې هم شعر لیکل کېدلی شي، نرۍ خوله به دې تندی ونیسي، لږ، لږ تبه هم پیدا شي او لکه وایبریشن ته اوښتی موبایل له هر بیت سره رېږدېدل هم وي. مګر دا منم چې د لومړي بیت لیکل زما په اختیار کې نه وي، په زړه کې مې یو څه وګرځي او هغه توري چې راجمع یې کړم، بیت ترې جوړ شي، بیا په خپل کوښښ غزل پوره او نور بیتونه هم ولیکم، تر دې چې غزل پوره شي.

څو ورځې وړاندې مې د اردو ژبې ((دل سې)) ناول لوسته دا چې له یو کال راهیسې مې مطالعه نه وه کړې او د ژوندانه ستړیاو، ستونزو او ډوبېدونکي کښتۍ مې زړه ماتېدو ته لند کړی و؛ نو پیل یې را ته ډیر سخت و؛ خخو چې کیسه څومره غځېدله، لیکوال او د ناول زمزمې کرښوو مې جنتي تنده زیاتوله، په هماغه شپه مې له ۲۰۰ ورقو زیات (دل سې) ناول ختم کړ، د اوړي په دغه سخته ګرمي او د ننګرهار په ظالمو میاشو مې هم چورت نه و خراب شوی، له ناول ختمولو وروسته وتوانېدلم چې پوره دری میاشتې ووروسته یوه لنډه کېسه او غزل پوره ولیکم او د ناول لیکوونکي ته مې ډالۍ کړل. له دې مخکې مې هیڅ هم نشو لیکلی، هر سهار مې د لمر ختلو او هر مازدیګر مې د لمر لوېدلو ننداره کوله هیله مې درلوده، چې د لمر را ځلولو او ډوبولو څښتن به د څه لیکلو لور (رحم) راباندې وکړي؛ خو ګوندې په د قسمت کې به مې څه لیکل درج نه و.

دا دی اوس هم په یوه خړه غونډۍ باندې څو لویو ډبرو (ګټو، تیږو) ته ډډه وهلی ناست یم؛ له لیکلو وړاندې مې یوازې لمونځ وکړ؛ نه کومه شنه کرونده شته، نه کوم حسینه لمحه، نه شباب، نه رباب او نه کباب؛ خو چې زړه مې د څه لیکلو زور موندلی لګیا یم جملې کاندم کله په عمر او پوهه کې زما د پلار هومره غضنفر صیب ردوم او کله د الهام په اړه د ځینو شاعرانو مبالغه او چورلټ درواغ تر سختې نیوکې لاندې نیسم. له دې ټولو سره منم چې د تورو، الفاظو او جملو د تېښتې پر مهال ضرور ډیر اضطرابي حالت لرم لکه زمونږ یو ملګری ( ) هغه را ته ویل له خپل محبوبې سره مې چې ملګرتیا پیل شوه هره ورځ د سیند پر غاړه توانېدم چې په ګیټار کومه نوې نغمه جوړه کړم، مګر کله مې چې له هغې سره اړیکې د خرابېدو لور ته تللې؛ نغمو هم زما له ګیټاره کډه کوله او عجیبه یې لا دا چې سره خفه شو؛ نو همدغه خفګان یو مظبوط خو په زړه غمګین سندر غاړی او شاعر را نه جوړ کړ؛ نو اوس مونږ ټول باید ومنو چې شاعري او لیکوالي لکه زما د ملګري لیلا ښه، بد او زړه ماتونکی وخت لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ